مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۸/۰۸/۲۶

# افغان حکومت؛ پیچلی امنیتي او سیاسي وضعیت

په افغان حکومت کې وروسته له ډاکټر غني، تر ټولو د ډیر واک لرونکی شخص، د امنیت شورا مشر حنیف اتمر استعفی او د حکومت د مشر لخوا يي منل، په دوېمه ورځ (۲۶ اګسټ ۲۰۱۸) يي د دفاع وزير بهرامي، د کورنيو چارو وزير برمک او ملي امنيت لوی رئيس معصوم ستانکزي لخوا د حکومت مشر ته يوځايي د استعفاوو وړاندي کېدل، خو د ډاکټر غني له خوا نه منل، تاوده بحثونه را ولاړ کړي.

ښاغلي اتمر په خپل استعفی لیک کې ويلي:

**"د دولت له رهبري سره د ملي اجماع، سولې او امنيت، سياسي مديريت او ټاکنې، ښې حکومتولې، سيمئيز او نړيوالو اړيکو اړوند د جدي مخالفت له امله استعفی کوم. "**

له مودي راهيسي د ډاکټر غني او حنيف اتمر تر منځ د اختلاف نظر خبري اوريدل کېدې، ويل کيږي چې ښاغلي اتمر د لوی اختر څخه مخکې استعفی وړاندي کړي وه، ډاکټر غني ورڅخه غوښتي وو چې له اختر وروسته دا کار وکړي، ځکه افغان حکومت تمه درلودله چې طالبان به په لوی اختر (۲۱ اګسټ ۲۰۱۸) کې د څو ورځو لپاره اوربند اعلان کړي، او که اتمر استعفی ورکړي، بيا به طالبان افغان حکومت لا ډير کمزوری وګڼي او له اوربند څخه به په شا شي.

دا هم ويل کيږي چې څو مياشتي مخکې عمر زاخيلوال، په اسلام اباد کې افغان سفير هم د حکومت مشر ډاکټر غني ته استعفی وړاندي کړي وه، ولي ډاکټر غني د هغه استعفی ځنډولي او له هغه يي غوښتي چې تر څه وخت پوري په خپله دنده پاتي او کار وکړي.

ځينو رسنيو د اګسټ ۲۵ مه، ۲۰۱۸، راپور ورکړ چې ډاکټر غني د دفاع وزير، کورنيو چارو وزير او ملي امنيت مشر څخه هم غوښتي چې له دندو استعفا وکړي، او نن ورځ چې هغوی تشه وليدله، يو ځايي يي استعفاوي وړاندي کړي، خو ډاکټر غني دا کار او د هغوی يو ځايي استعفا منل خپل سياسي انتحار وګاڼه. شوني ده چې په راتلونکي وخت کې د دوی سربيره ځيني نور لوړ پوړي چارواکي هم له دندو ولاړ او يا يي پريښودو ته مجبوره کړل شي.

پرته له شکه چې د حنيف اتمر ځای به د ګډ حکومت کوم بل کس ډک نه کړي، ولي حنيف اتمر هم غوښتل چې په دغه حساس وخت کې د راتلونکي ولسمشريزو ټاکنو او يا لندمهاله حکومت اړوند خپل کمپاين ته وخت ولري.

احمد الله محب به وکولای شي چې د ګډ حکومت لپاره د امريکائي او بريتانوي چارواکو په دننه کې ښه کمپاين وکړي، ولي اوس وخت ډير ناوخته دی.

حنيف اتمر که څه هم د افغان حکومت په مشرې له طالبانو سره د سولي خبرو پلوی وو، ولي د امريکا او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو مخالفت يي هم نه کاوو، دا ډول په راتلونکي ماسکو غونډه (۴ سپتمبر ۲۰۱۸) کې د افغان حکومت د استازو ګډون يي هم پر ځای کار ګاڼه.

داچې امريکا په وار وار له ډاکټر غني څخه غوښتي چې خپل سياسي مخالفينو سره جوړجاړی وکړي، دوستم بيرته هيواد ته راوستل شو، صلاح الدين رباني او عطا نور سره پټي خبري رواني دي، د حراثت او ثبات شورا مشر استاد سياف ملاتړ تر لاسه کولو هڅې کيږي، او بل خوا د شمال ټلوالي پخوانيو غړو غوښتنه وه چې حنيف اتمر او معصوم ستانکزی بايد له دندو ليري شي، بيا به له ډاکټر غني سره سياسي جوړجاړی کوي.

حنيف اتمر به کله هم د امريکا او بريتانيا ملاتړ له لاسه ورنه کړي، په بريتانيا کې يي د امنيت برخه کې روزنه ليدلي، له امريکا / ناټو سره يي پر امنيتي او فاعي ترون لاسليک کړی.

د ټاکنو اړوند ويل کيږي چې د افغان حکومت په دننه کې ستونزې شتون لري، او حنيف اتمر به هڅه کوله چې راتلونکي ولسي جرګې ټاکنو کې د پام وړ شمير ځوانان راولي، زما ليکوال په اند د ولسي جرګې د ټاکنو د سبوتاژ هڅې د افغان حکومت له دننه د ځينو کړيو لخوا کيږي، او نړيوال هم د پخوا په وخت د ټاکنو ليوالتيا نه لري.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ويل کيږي چې حنيف اتمر د کورنيو چارو وزير سره په ګډه پر داسي پلان کار کړی وو چې نا مسؤل وسلوال بايد ونيول شي، کوم چې د ډاکټر غني لخوا نه يوازي رد شوې، بلکې د هغه د ناخوښي لامل هم ګرځيدلی وو، او د حنيف اتمر اختلافات ورسره لا زيات شوې وو.
د زابل پخواني والي خيال محمد حسيني هم په زابل کې د سولې اړوند په لوړه کچه ځينې مهم فعاليتونه د حنيف اتمر په خوښه او اجازه تر سره کړي وه، کله چې د حنيف اتمر سره رقابت کوونکي له همدې پټې معاملي خبر شول، د ډاکټر غني ذهنيت يې بل لورته واړاوو، او حسيني يې مجبوره کړ چې استعفا ورکړي.
د غزنې جګړه او د لوی اختر په ورځ په کابل کې راکټې بريدونه د امنيتي ادارو په اوسني وضعيت بې تاثيره نه وو، د غزنې جګړې اړوند ډاکټر غني ته په لومړيو کې ناسم معلومات ورکول شوې وو، کله چې د اجرائيه رئيس دوېم مرستيال انجنير محمدخان له ډاکټر غني سره وليدل، همهغه وخت ډاکټر غني د غزنې په ګډ وډ امنيتي وضعيت پوه شو، او دا ډول د لوی اختر په ورځ ارګ ته نږدې د عيدګاه جومات له سيمې څخه د راکټونو توغېدل، او د چارواکو ويرېدل، هغه څه وو چې ممکن ډاکټر غني به يې پر خپل امنيتي ټيم بې باوره کړی وي.
امريکا پلوي پخواني چارواکي، چې اوس مهال له دندو ليري شوې او د حکومت په سياسي مخالفت کې ولاړ دي، ځينې امريکايي چارواکي او ډيری افغانان په دې نظر دي چې د افغان کشالې د ستونزې د حل يوه لاره لنډ مهاله حکومت دی، حتي تر دې چې فکر کوي کومه ورځ به ډاکټر غني هم له دندې استعفی ورکړي، ممکن له همدې امله به وي چې حنيف اتمر استعفا ورکړې وي، ځکه د راتلونکي موقت حکومت د مشرۍ لپاره د عمر داودزي، حنيف اتمر، حضرت عمر زاخيلوال او انوارالحق احدي نومونه ياديږي.
که لنډمهاله حکومت نه جوړيږي، بيا هم حنيف اتمر تمه لري چې د امريکا او بريتانيا او سيمئيزو هيوادونو ملاتړ (پرته له ايران) له ځان سره ولري، که وکولای شي چې راتلونکي ولسمشريزه ټاکنې وګټي.
اتمر پوهيږي که په ماسکو غونډه کې د افغان حکومت استازي ګډون ونه کړي، هغه سيمئيزه اجماع چې دوی يې تمه درلودله، هغه اجماع به هم د طالبانو په ګټه تمامه شي، ځکه د ماسکو غونډه کې د سيمې هيوادونو استازي ګډون کوي، او هلته به له طالبانو سره مخامخ خبرې ولري، طالبان به هڅه وکړي چې د هغوی انديښنو ته ځواب ووايي.
پوښتنه داده چې د شمال ټلوالي د پخوانيو غړو له خوا په پښتونيزم تورن شوی ډاکټر غني به د حنيف اتمر او د معصوم ستانکزي په ممکنه نه شتون کې له دوی او نورو سياسي جريانونو سره سياسي معامله وکولای شي، که يې وکړي، نتيجه به يې د ډاکټر غني او يا هغوی په ګټه وي؟ وخت ته به انتظار وکړو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ